د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد
پالیسي یادښتونو سلسه

# په افغانستان کې د برک (BRAC) د ژوندانه د مهارتونو د زده کړې او کاري مهارتونو د روزنې ونډه په تولنیز مشارکت کې

چونا اچاوز ،بابکن بابه جانین ،جسیکا هیګن زنکر

وری ۱۳۹۳

## مهم پیغامونه

- دا یوه پرېکنده خبره ده، چې د مهارتونو روزنیز پروګرامونه د ښوونې او زده کړې د ورتیا د لوړولو په موخه د معیار د کنترول او څار او ارزولو لاري چارې رامنځته کوي او پر مخ یې بیایي
- د مهارتونو د روزلو پروګرامونه دې ته اړتیا لري، چې د داسې مهارتونو او دندو د پېژندلو لپاره د بازار او اقتصادي څېړنې وکړي، چې له لارې یې اړوند کسان په بریالیتوب سره ګټه ترلاسه کړي.
- روزنیز فعالیتونه باید اداري چارې سره همغږې کړي چې له لارې یې پیلیزې پانګې، تولیدي توکیو او بازارونو ته لاسرسی پیدا شي.
- پروګرامونه باید د ټولنیزې محرومی، جنسیتي اړیکو او اقتصادي ملاتړ د پېچلو، له قرینې سره سمو او ټولیزو خاوو د ټولنیزې او اداري شننې پر بنسټ جوړ شي.
- د مهارتونو روزنیز فعالیتونه آن که په سم ډول ډیزاین هم شي، محدودې پایلې په لاس راکوي او ښایي هغه ټولې مربوطې مسلې اواري نه کړي، چې په یوه ټولنه کې محرومیتونه رامنځته کوي. دا پروګرامونه باید د پراخو تګلارو د ګامونو او سمونونو په راوستو تقویه شي.

**په دې وروستیو کې هغه رول ته زیاتېدونکې پام ور اړول شوی، چې کارګر پروګرامونه یې له اقتصادي اړخه هاخوا تر سره کولای شي. د دې له مخې د پوهې او د بېوزلۍ د ګڼ اړخیز وضعیت د ښه کولو پر اهمیت ټینګار کېږي. د دې څېړنې په ترڅ کې د ټولنیز محرومیت د ارزولو له لارې هڅه وشوه، چې د ځوانو ښځو لپاره د برک د ژوندانه د مهارتونو د زده کړو او کاري مهارتونو د روزلو پروګرام د اغېز وشنل شي.**

په افغانستان کې د کلونو کلونو جګړو زېرېناوې ډېرې کمې کړې او جدي اقتصادي، ټولنیزې او سیاسي ننګونې یې راپورته کړې دي. ښځې اړیستل شوې چې د زیات شوي تاوتریخوالي، د دوی له حقونو د سرغړونو او فرصتونو د نشتوالي له کبله (مرادیان، ۲۰۱۳) ځانګړې ستونزی وګالي. د روزګار موندلو په بازار او عوایدو تولیدوونکو فرصتونو کې د ښځو او نارینه و تر منځ جدي انډولې پر ځای پاتې دي. د کارګرو د نړیوال سازمان (ILO) په وینا، په ۲۰۱۱ کال کې د ښځینه و (تر ۱۵ کلونو پورته) د ګډون کارګري ځواک ۱۵.۷ سلنه و، چې په پرتلیز ډول د نارینه و هغه ۷۷.۲ سلنه و.[1]

جنسیت یو مهم فکتور دی، چې سرچینو، چوپړونو او فرصتونو ته لاسرسی اغېزمنوي او روزګار ته په لاسرسي کې خنډونه جوړوي. د مهارتونو او زده کړو په لاسته راوړو، تولیدي سرچینو او پانګې ته په لاسرسي او له کوره بیرون کار کولو کې ښځې تر سړو ډېرې بې برخې دي. د ښځو د سواد کچه د مخ پر ودې هېوادونو په منځ کې په خورا ټیټه کچه کې راځي (د افغانستان اسلامي جمهوریت ۲۴ :۲۰۱۰). په کلیوالو سیمو کې چې تر ۷۰ سلنې ډېر وګړي پکې اوسېږي، د اټکلونو له مخې ۹۰ سلنه ښځې او ۲۳ سلنه سړي یې نالوستي دي (د پوهنې وزارت ۲۰۱۲). ښځې دې ته اړیستل شوې، چې پانګې او بازارونو ته محدود لاسرسی ولري (ګنبش او نور ۲۰۱۳). دوی د کرکېچ او جګړې پر مهال ډېری وختونه د ګواښونو او تاوتریخوالي لومړي هدفونه ګرځي (د بشري حقونو د څار سازمان، ۲۰۱۰) چې دا چاره د جنسیت د موجوده نورمونو او فعالیتونو سره یو ګډه د ښځو د خوځښت مخه نیسي او زده کړو، روغتیایي چوپړونو او روزګار ته د دوی لاسرسی اغېزمنوي.

په تېره لسیزه کې افغان حکومت او نړیوالې ټولنې د ځوانانو لپاره د کاري فرصتونو د برابرولو او د ځوانانو د ژوندانه ښه کول د ثبات پر لور د افغانستان د تګ په موخه مهمې مسلې بللې دي. یو شمېر پرمختیایي پروګرامونه هڅه کوي، چې د کار بازار او اقتصادي پیاوړتیا ته د ځوانو ښځو لاسرسی پراخ کړي.

[1] http://data.worldbank.org/indicator/SL.TLF.CACT.FE.ZS

## د څېړنې موخې او چلندلار

په دې څېړنې کې په کابل او پروان ولایتونو کې د برک (BRAC) بنسټ له خوا د کاري مهارتونو او روزګار موندلو د روزنې پروګرام ارزول شوی دی. برک دا روزنيز پروګرام د کاناډا د نړيوالې پرمختيايي ادارې (CIDA) په مالي مرسته د نجونو د زده کړو پروژې (GEP) په چوکاټ کې پلی کړی دی. د دغې پروژې له لارې د هغو ښځينه و لپاره د نجونو د زده کړو مرکزونه (ARC) جوړ شول چې عمرونه يې د ۱۵ او ۲۰ کلونو تر منځ وو او لومړنۍ زده کړې يې کړې وې، خو وروسته يې ادامه نه وه ورکړې. د نجونو د زده کړو دا پروګرام په کابل کې د ۲۰۱۱ کال له مارچ نه تر جون مياشتې او په پروان کې د ۲۰۱۱ کال له جون څخه تر اګست مياشتې پورې تر سره شوه.

**۱ شکل: کابل او پروان ولايتونه**




د څېړنې موخه د هغې کچې مالومول وو، چې ځوانو مېرمنو ته د ژوند د مهارتونو او کاري روزنو پروګرام د روزګار په بازار کې په داخلېدو او د عوايدو په لاسته راوړو کې له دوی سره څومره مرسته کړې ده. څېړنې دا هم و ارزوله چې دغه روزنيز پروګرام نورې اغېزې هم رامنځته کړې که څنګه. په ځانګړې ډول دا و ارزول شول، چې دې پروګرام د ګډونوالو پر ټولنيزې پياوړتيا او له حکومتي ادارو سره د دوی پر چلن ټولنيزو اړيکو اغېز کړی که نه.

| **۱ چوکاټ: د برک (BRAC) د ژوندانه د مهارتونو د زده کړو او کاري مهارتونو د روزنې پروګرامونه** |
|---|
| د نجونو د زده کړو په دې مرکزونو کې ګډونوالو ته دا فرصت برابر شوی و، چې دوه ډوله روزنې تر لاسه کړي، يوه د ژوند د مهارتونو او بله د روزګار موندلو په برخه کې. د ژوند د مهارتونو د زده کړو روزنيز پروګرام يو پينځه ورځنی کورس و، چې په ترڅ کې يې په عمومي او ولادي روغتيا او د ماشومانو او مېرمنو پر حقونو خبرې وشوې. د کاري او روزګار موندلو مهارتونو پروګرام درې مياشتې تدريس شو او له لارې يې ګډونوالو ته داسې مهارتونه ور زده شول، چې له مخې يې د عوايدو لاسته راوړونکي فعاليتونه تر سره کړي او له اقتصادي پلوه پرې تکيه وکړي. په دې پروګرام کې د لاسي صنايعو، کڅوړو جوړولو، خياطۍ، څارويو ساتلو او د خوړو د پروسس کولو روزنيزې لارې چارې شاملې وې. |

د څېړنې موخه يوازې د برک د پروګرام د اغېز ارزونه نه وه، بلکې په بدلون راوستو کې د دغه پروګرام د اغېزناکتوب ارزونه هم وه. دا ارزونه د ټولنيزې محرومۍ د چوکاټ پر بنسټ تر سره شوې، چې ټينګار يې پر دې ټکي دی، چې په بېلابېلو خواوو کې د پروګرامونو اغېز و ارزول شي او دا چې دا پروګرامونه د بې وزلۍ او زيانمننې د عواملو پر مخنيوي څومره اغېز کوي (باباجانيان او هاګين-زنکر ۲۰۱۲). نو د څېړنې هيله پر دې ټکي پوهېدل وو، چې د کاري روزنو پروګرام په ځانګړې ډول د هغو ټولنيزو جوړښتونو او بهيرونو د ننګولو وړتيا درلوده که نه، چې د روزګار بازار ته د ښځو د لاسرسي مخنيوی کوي.

په څېړنه کې د کمي او کيفي څېړندودونو له ګډې کارونې استفاده شوې ده. په کمي څېړندود کې تشرېحي او د عوايدو د لاس ته راوړو د وسايلو د څومره والي د معلومولو شننې کارول شوې، چې موخه يې د ګټه رسېدونکو او نه رسېدونکو ته د دې د پايلو معلومول وو. په ټوله کې په ۱۳ کليو کې له ۳۲۴ کسانو (له هرې کورنۍ يو تن) سره مرکې وشوې، چې د ګټه رسېدونکو او نه رسېدونکو تر منځ برابر تعادل په کې پام کې نيول شوی و. په کيفي څېړندود کې ۲۲ متمرکزو ډلو شپږويشت بحثونه شامل وو، چې د پروګرام ۷۲ ګټه رسېدلو او ۷۵ نه رسېدلو په کې ګډون درلود. همدارازله ۲۱ ګټه رسېدلو او ۱۴ نه رسېدلو سره نيمه-جوړښتي هر اړخيزې مرکې هم تر سره شوې.

## د څېړنې موندنې

### د روغتیا، لیک لوستي مهارتونو او حقونو د پوهاوي په اړه مالومات

په ټوله کې، له پروګرامه ډېری برخمنو کسانو د ژوند د مهارتونو پروګرام ګټور وباله. د دغه پروګرام په مهمو ګټو کې د روغتیا، لیک لوستي مهارتونو او د حقونو د پوهاوي په برخه کې د نجونو د پوهې زیاتېدل ګڼل کېږي. تر سره شوې او لاس ته راغلې کیفي موندنې ښیي چې ګډونوالو په دې پروګرامونو کې د روغتیا په اړه لاس ته راوړي معلومات تر ډېره کارولي دي، د بېلګې په توګه د ډاکټر په لیدو یې یوه روغتیایي اندېښنه ورسره شریکه کړې او د شخصي/کورنۍ د پاکوالي کچه یې ورسره زیاته شوې ده.

> هو زه اوس د روغتیا او زده کړو په اړه تر پخوا ډېر مالومات لرم او په دې اړه پوهاوی لرم. ما دا مالومات په خپل ورځني ژوند کې کارولي دي. د بېلګې په توګه، د روغتیا له پروګرامه، ما د پاکوالي په اړه ډېر مالومات تر لاسه کړي (...) ما اوس ډېر پوهاوی تر لاسه کړی او اوس چې هر کله زه ناروغه شم، زه کلینیک ته ځم او درمل اخلم.

- د م سره مرکه په کابل کې

کیفي معلومات ښیي چې نجونو د پروګرام په بهیر کې تر لاسه کړي لیک لوستي مهارتونه په خپلو کورونو کې له ماشومانو سره په کورنۍ دندې د مرستې په توګه کارولي دي.

> د زده کړو پروګرام زما لپاره ډېر مهم و. په دې کې ما لیک لوست زده کړ. زه اوس ډېره خوښه یم او اوس خپلې کوچنۍ خور ته لیک لوست ور زده کوم.
>
> (په پروان ولایت کې د FGD یوه ګډونواله)

## د کاري مهارتونو د روزنې کارول او پلې کول

خیاطي د کاري مهارتونو د پروګرام تر ټولو مشهور او مهم کورس و، چې زموږ د پروګرام د ګډونوالو له ډلې ۱۵۰ تنو پکې ګډون کړی و ( د ټولو شمېر ۱۸۲ و). تر نیمایي زیاتو ګډونوالو ویلي چې د دغه پروګرام په ترڅ کې یې نوي مهارتونه زده کړي او په پېنځو کې یوې ګډونوالې ویلي، چې په خپلو وار له مخه زده کړو مهارتونو کې یې پرمختګ کړی دی. د پوښتل شویو کسانو په دریوو کې دوه برخو ویلي، چې د زده کړیو مهارتونو په پلي کولو توانېدلې دي. تر ټولو پراخ استعمال یې د خپلو ځانونو او د کورنۍ د نورو غړو لپاره د ګډونوالو له خوا د جامو ګنډل وو.

**۱ جدول: د کاري مهارتونو له پروګرامه د ترلاسه کړو معلوماتو پلي کول**

| د تر لاسه شویو معلوماتو پلي کول | شمېر | د ۱۸۲ قیصدی |
|---|---|---|
| له پروګرامه تر لاسه کړي پلي کېدونکي معلومات | ۱۱۹ | ۶۵.۴ |
| د پلي کېدنې ډول (ګڼ ځوابونه) | | |
| د ځان لپاره د جامو ګنډلې | ۸۰ | ۴۳.۹ |
| د کاروبار پیلول | ۲۳ | ۱۲.۶ |
| د خپل ځان او کورنۍ لپاره د جامو ګنډل | ۱۳ | ۷.۱ |
| په موجوده کاروبار کې کارول | ۳ | ۱.۶ |
| نور | ۳ | ۱.۶ |

> موږ له دې کورسه ډېرې ګټې تر لاسه کړې، چې اقتصادي اړخ یې ځانګړې اهمیت لري. د خیاطۍ روزنیز پروګرام ډېر ګټور و، ځکه دلته موږ د خپل ځان او د کورنۍ د نورو غړو لپاره د جامو ګنډل زده کړل. کله چې زه په کور کې خیاطي کوم، د دې مانا دا ده چې زه د خپل پلار پیسې سپموم. نو دا له اقتصادي پلوه زما د کورنۍ لپاره یوه ستره مرسته ده.

- ز سره مرکه په پروان کې

په دریوو کې یوه برخه ګډونوالې پر دې باور وې، چې د کاري مهارتونو له روزنې یې ډېر څه نه دي تر لاسه کړي. د کیفي ارزونې په ترڅ کې پوښتل شویو کسانو دا په ډاګه کړې، چې دغې روزنې دوی ته دا توان نه دی ورکړی، چې د پیسو په بدل کې جامې وګنډلای شي. د دې څېړنې نورو کمي معلوماتو هم دا واقعیت تایید کړی او ښوولې یې ده، چې تر ۴۰ سلنې زیاتې ګډونوالې پر دې باور وې، چې د مهارتونو کموالی په ټولیز ډول د دوی لخوا د کاروبارونو د پر مخ بیولو مخه نیسي.

> د دغه کورس ټوله موده یوازې درې میاشتې وه. موږ په پوره ډول زده کړې تر لاسه نه کړې. نو دغه کورس له موږ سره د دندو په تر لاسه کولو او پیسو ګټلو کې مرسته و نه کړه.
>
> ( په پروان کې د FGD یوه ګډونواله )

### پر کاروباري فعالیتونو او اقتصادي سرچینو ته پر لاسرسي اغېز

د ټولو ګډونوالو یوې کوچنۍ برخې ( ۱۳ سلنې، یا د ۱۸۲ ګډونوالو له ډلې ۲۳ تنو ) ویلي، چې دوی د یوه کاروبار په پیلولو کې د خپلو زده کړو مهارتونو په کارولو توانېدلي. کیفي مرکو دا تایید کړې، چې د کاري مهارتونو شاوخوا ۱۹ ګډونوالي پر دې توانېدلي، چې یو کاروبار پیل کړي او عواید لاس ته راوړي. د لاس ته راغلو معلوماتو شننې ښیي چې د کاري مهارتونو روزنیز پروګرام د کارموندلو او کورنیو عوایدو په برخه کې کم مثبت اغېز کړی، خو دا اغېز ډېر کوچنی دی او په عمل کې یې ډېر مهم بدلون نه دی راوستی.

### له حکومتي ادارو سره ټولنیزې اړیکې او تګ راتګ

د ژوند د مهارتونو او کاري مهارتونو د زده کړې روزنو له کورنیو او د ټولنې له غړو سره د اړیکو په ګډون پر ټولنیزو اړیکو تر ډېره مثبت اغېز درلود. له دې لارې د کورنیو او ټولنې د غړو له خوا متقابل درناوی زیات شو او د ګډونوالو ټولنیزې شبکې او ټولنیزې اړیکې یې زیاتې کړې. خو له بله پلوه ځینو پوښتل شویو کسانو وویل، چې شخړې او په ټولنه کې یې په اړه منفي چلند زیات شوی. په ځینو مواردو کې دا چاره د هغو نجونو د رشک له کبله راپورته شوې، چې په دغه کورس کې په ګډون نه دې توانېدلې. په ځینو نورو مواردو کې بیا د ټولنې د هغو محافظه کارو غړو له خوا راولاړه شوې، چې د کورس له محتوا سره موافق نه وو. په دغو روزنو کې ګډون له حکومتي چارواکو سره اړیکې نه دې زیاتې کړې: د روزنیزو پروګرامونو په سیمه کې ښځو له سیمه ییزو حکومتي چارواکو سره هېڅ اړیکې نه درلودې.

خو له بله پلوه ځینو پوښتل شویو کسانو وویل، چې شخړې او په ټولنه کې یې په اړه منفي چلند زیات شوی. په ځینو مواردو کې دا چاره د هغو نجونو د کینې ( رشک ) له کبله راپورته شوې، چې په دغه کورس کې په ګډون نه دې توانېدلې. په ځینو نورو مواردو کې بیا د ټولنې د هغو محافظه کارو غړو لخوا راولاړه شوې، چې د کورس له محتوا سره موافق نه وو.

په دغو روزنو کې ګډون له حکومتي چارواکو سره اړیکې نه دې زیاتې کړې: د روزنیزو پروګرامونو په سیمه کې ښځو له سیمه ییزو حکومتي چارواکو سره هېڅ اړیکې ( تګ راتګ ) نه درلودې.

> هو، دوی ما زده کړو ته هڅوي او تر پخوا ډېر زما درناوی کوي. اوس چې ما زده کړې کړې، کله چې مې کورنۍ کوم کار کول غواړي له ما مشورې اخلي.
>
> - د ر.سره مرکه په کابل کی

## د روزنیز پروګرام د اغېزو تشریح کول

د کاري مهارتونو د روزنې د محدودو عوایدو تر لاسه کوونکو پایلو تر شا یو مهم فکتور د دغه پروګرام د جوړښت او وړاندې کولو په بڼې پورې تړلی دی. هغو پوښتل شویو کسانو چې د خیاطۍ په کاروبار یې لاس نه دی پورې کړی ناکافي مهارتونه له روزنې وروسته د عوایدو تر لاسه کوونکو فعالیتونو د نه پیلولو بنسټیز لامل بللی دی. هغو مېرمنې چې په دغه کاروبار بوختې وې، داسې ښکارېده چې په دغه کورس کې له ګډونه دمخه په بنسټیزې خیاطۍ پوهېدلې. روزنې دوی ته دا توان ورکړ، چې خپل مهارتونه لا پیاوړي کړي او لا نور پر خپلو پښو ودرېږي. هغه مېرمنې چې دا کورس یې په دې برخه کې له مخکنیو روزنو پرته پیل کړی و پر دې نه دې توانېدلې، چې د پیسو په بدل کې د جامو ګنډلو مهارتونه زده کړي. د کمي سروې په ترځ کې د ګډونوالو نظرونه د دې واقعیت تایید کوي، چې د کاري مهارتونو د روزنې پروګرام د مناسبو مهارتونو په ښوونه کې اغېزناک نه و. د پوښتل شویو ګډونوالو له ډلې تر ۴۳ سلنې زیاتو د مهارتونو ټیټوالی په تېرو ۱۲ میاشتو کې د کاروبار د نه پیلولو مهم لامل بللی دی. دا چې په دې کورس کې ښوول شوي مهارتونه په کور کې دننه د دندې په توګه پر مخ بیول کېدای شي، د روزنې پایلې د بیرون تګ راتګ په څېر د هغو خنډونو له کبله نه دې زیانمنې شوې، چې د ښځینه و د روزګار پر وړاندې پراته دي.

> زه ویلای شم، چې ښځو ته دا اسانه ده چې د خیاطۍ په څېر دنده په خپل کور کې پر مخ یوسي خو له کوره بیرون نه، ځکه بیا خلک ورپسې بدې خبرې کوي. دویم دا چې، موږ یو ناوړه دود لرو، چې له مخې یې ښځو ته له کوره دباندې د کار اجازه نه ورکول کېږي. که کومه ښځه له کوره بیرون کار کوي، زموږ په ټولنه کې بد نوم لري. له همدې کبله سړي خپلو ښځو یا لوڼو ته له کوره د بیرون کار کولو اجازه نه ورکوي. سړي په دې نظر دي، چې سړي باید د کورنۍ لپاره کار وکړي او پیسې وګټي، خو د ښځو دنده دا ده چې په کور کې پاتې شي، د پاک کاري وکړي او د کور کارونه تر سره کړي او همدا د دوی لپاره کافي ده.
>
> (په کابل کې د FGD ګډونواله)

ځانګړو کاري ځانګو او دندو ته په کتو د ښځو د روزګار پر وړاندې پراته خنډونه ښایي بېلابېل وي. که څه هم په دې څېړنې کې د تمرکز په ځانګړو ساحو کې د هغو عواملو د ارزونې هڅه شوې، چې د برک د روزنیزو پروګرامونو پایلې یې اغېزمنې کړې، خو په ترڅ کې یې د ښځو د روزګار پر وړاندې پراته عمومي خنډونه او شته فرصتونه هم ارزولي دي. د ښځینه و د روزګار پر وړاندې د پرتو خنډونو په اړه د ځوانو ښځو نظریاتو په لا عمومي توګه دا خبره په ډاګه کړه، چې د پوهې او مهارتونو تر څنګ د کاروبار پیلول پر یو شمېر نورو عواملو هم تکیه کوي. پوښتل شویو مېرمنو څرګنده کړه، چې زده کړو، مالي پانګې او تولیدي سرچینو ته د لاسرسي کموالی او د ښځو بیروني تګ راتګ باندې بندیزونه د ښځینه و د روزګار پر وړاندې مهم خنډونه دي. که څه هم د دغو عواملو ډېری یې د ښځو او سړو دواړو پر وړاندې خنډونه جوړوي، خو دا عوامل د ښځو لپاره ډېر مخنیوونکي ښکاري.

> زمونږ د ټولنې ډېری ښځې ډېرې بېوزلې دي. دوی دومره پیسې نه لري، چې خپل کوچني کاروبارونه پیل کړي. د کاروبار پیلول پیسو او مهارتونو ته اړتیا لري.
>
> (په پروان کې د FGD یوه ګډونواله).

## پایلې

د ښځو لپاره دندو او عوایدو ته د لاسرسي د پراخولو په موخه باید تګلاري روزنیز پروګرامونه نه یوازې د اغېزناکې ښوونې او زده کړې چارې پر مخ یوسي، بلکې د هغو ټولنیزو، اقتصادي او اداري عواملو لپاره د حل لارو لټولو هڅې هم باید وکړي، چې د نامساوي لاسرسي او ګڼو محرومیتونو لامل ګرځي. په دې کې د محرومیتونو د هغو لاملونو پېژندل او په نښه کول شامل دي، چې په ځانګړو کاري ځانګو یا دندو کې له اقتصادي فرصتونو ګټې اخېستنې کې د ښځو ورتیا اغېزمنوي. د دغو لاملونو له ډلې ځینې د کارګرو د بازار د بڼې جوړولو او اداري سمونونو له لارې اوارېدای شي؛ ځینې نور یې بیا اوږدمهالې ژمنتیا او پراخو تګلاري پروګرامونو ته اړتیا لري.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې واحد په اړه

د افغانستان د څیړنې او ارزونې واحد په کابل کې میشته یوه خپلواکه څیړنیزه موسسه ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالې درلودونکو او پالیسۍ پورې اړوندو څیړنو له لارې پرپالیسۍ او چارومثبتې اغیزې دي، او همدا راز نومورې اداره په افغانستان کې د څیړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه ، د څیړنې پایلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسیدو لپاره له خپلو څیړنو او کتابتون څخه د ګټې اخیستنې دترویج په موخه له پالیسي جوړوونکو ، مدني ټولنې، څیړونکو او زده کوونکو سره ددوی د څیړنیزې وړتیا د پیاوړې کولو په موخه ښکیل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو ، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې بنسټ (AREU) په ۲۰۰۲ کال کې په افغانستان کې د نړیوالې مرستندویې ټولنې په همکارۍ جوړ شو. دغه بنسټ د مشرتابه یو بورد لري چې د مرستندویو ادارو ، ملګرو ملتونو او نورو ګڼ اړخیزو ادارو او نادولتي ټولنو استازي پکې ګډون لري. AREU اوسمهال د خپلو مرستو ډېره برخه د فیلینډ له سفارته، د سویډن د بهرنۍ پرمختیا د مرستندویه ادارې (SIDA) او د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سویس له ادارې (SDC) څخه تر لاسه کوي.

په ۲۰۱۴ کال کې د دغه بنسټ د ځانګړو پروژو ملاتړ د اروپایي کمېسیون (EC) ، د پرمختیا او همکارۍ لپاره د سوېس ادارې (SDC) ، د نړیوال پرمختګ انسټیټیوټ (ODI) ، د ملګرو ملتونو پرمختیایي ادارې (UNDP) ، نړیوال بانک ، د منځنۍ اسیا پوهنتون (UCA) ، د امریکا د سولې انسټیټیوټ (USIP) ، د نړیوالې همکارۍ لپاره الماني ټولنې (GmbH) ، (GIZ) او د فیلینډ د سفارت لخوا تر سره کېږي.

## د بهرنیو هېوادونو پرمختیایي انسټیټیوټ (ODI) په اړه:

د بهرنیو هېوادونو پرمختیایي انسټیټیوټ (ODI) د نړیوالو پرمختیایي او بشري مسلو په اړه د برتانیې مخکښه څېړنیزه اداره ده.

زموږ ماموریت د هغو تګلارو او کړنو هڅول او پوهاوی دی چې د بېوزلۍ د کمېدو ، د ځور د کچې د ټیټېدو او د پایښت لرونکو روزګارونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي.

موږ دا کار د لوړ معیار د څېړنې، د تګلارو په اړه د عملي مشورو او پر تګلارو باندې د متمرکزو مالوماتو د خپرولو او بحثونو د ایجادولو د سره یو ځای کولو له لارې تر سره کوو.

موږ په پرمختللو او مخ پر ودې دواړو ډولو هېوادونو کې په دولتي او خصوصي سکتورونو کې له ملګرو بنسټونو سره ګډ کار کوو.

دا هېوادني معلومات د هغې پراخې څېړنیزې پروژې برخه ده، چې په ترڅ کې یې په سوېلي اسیا کې د ټولنیز ګډون د پرمختیا په برخه کې د ټولنیز خوندیتابه او کارګرو پروګرامونو اغېزناکتوب او مناسبتوب و ارزول شو. دا څېړنه په څلورو هېوادونو کې د همکارو بنسټونو په مرسته تر سره شوه. د دې څېړنې په ترڅ کې په افغانستان کې د ځوانو ښځو لپاره د برک د ژوندانه د مهارتونو او کاري روزنو پروګرام، په بنګله دېش کې د چارس د کاري مهارتونو پروګرام او د زیانمنونکو ډلو پرمختیایي پروګرام، د هند په اترپردېش او مهاراشټرا ایالتونو کې د روغتیا د ملي بیمې پروګرام او د نیپال په کرنالي سیمه کې د ماشومانو د مرستې پروګرام و ارزول شو. د هر هېواد په اړه رپوټونه او معلومات او د اړوندو هېوادونو په اړه شنونکی رپوټونه او همدراز د تړاو لپاره د سیمه ییزې او نړیوالې تګلارې په موخه د ګټې اخېستنې لپاره اړوندې لیکنې په دې پته تر لاسه کېدای شي. www.odi.org/sp-inclusion